# د حضرت باچاخان(رح) وينا

**اداره**

(دا تقرير باچا خان په **29** ستمبر **1939** د سويلي چارسدې يوې درنې غونډې ته کړے ؤ او پښتون ګڼه کښې په **11** نومبر **1939** چې د روژې د مياشتې **28** وه چاپ شوے دے. فخر افغان چې دې تقرير کښې څۀ فرمائيلي دي هغه تېک په تېک نن رښتيا شوي دي. پښتون دا تقرير د محمد اقبال په مننه چاپ کوي.)

ورونړو! زۀ ستاسو د دې مينې محبت او اخلاص نه ډکې سپاسنامې ډېره ډېره شکريه ادا کوم. زۀ ګورم چې نن ستاسو خيالات او ستاسو جذبات بدل شوي دي،زۀ وينم چې يواځې ستاسو خيالات او ستاسو جذبات بدل شوي نۀ دي، بلکې د اکثرو خلقو په خيالاتو کښې تبديلي راغلې ده. زۀ چې فکر کووم چې دا ولې؟ په دې خلقو کښې دا فرق ولې راغلے دے؟ نو زۀ په دې نتيجه رسېدلے يم چې تاسو د جنګ اورېدلي دي او په تاسو کښې بيا دا شوق پېدا شوے دے چې د خپل قام او ملک دپاره به بيا جنګ کوو خو زۀ به تاسو ته د دې خبرې متعلق نن صفا صفا يو څو خبرې وکړم، تاسو په هغې غوږ کېږدئ او ځان پرې پوهه کړئ. دا خو ما تاسو ته هميشه وئيلي دي چې پښتون خو د جنګ مړنے دے او چې چا سره د پښتون مقابله پېښه شوې ده نو ګټه هم دۀ کړې ده. فتح هم د دۀ نصيب شوې ده، مګر ستاسو څۀ خيال دے چې زمونږ د دې تحريک مقصد بس جنګ دے. زۀ دا خو منم چې د جنګ ماده په تاسو کښې ډېره موجوده ده کۀ تاسو د خپلو مشرانو تاريخ وګورئ نو تاسو ته به معلومه شي چې پښتون چې څۀ وخت جنګ شروع کړي نو په دۀ کښې اتفاق راشي، مينه پېدا شي، محبت پېدا شي او دې خپلې کورنۍ جګړې شاته کړي چې څۀ وخت جنګ ختم شي څۀ ګټه وکړي نو بيا د هغې ګټې د سمبالي نۀ وي نو زۀ تاسو پوهوم چې زمونږ اصلي غرض خو جنګ نۀ دے د خدائي خدمتګارۍ مطلب خو دا نۀ دے چې په مونږ کښې د جنګ ماده پېدا کړي، دا ماده خو په مونږ کښې موجوده ده، مونږ خو خدائي خدمتګاري د دې غرض دپاره شروع کړې ده چې مونږ په دې خپلو ورونړو کښې هغه عادتونه پېدا کړو، هغه خويونه او خصلتونه پېدا کړو چې دوي د امن په وخت کښې خپله ګټه سمبال کړي. په هغه ګټه دوي اباد شي او د دوي بال بچ اباد شي.

نن تاسو په دې خبره ځان پوهه کړئ چې هغه کوم څيز دے چې پښتون د خپلې ګټې نه فائدې اخستو ته نۀ پرېږدي. نو ياد لرئ چې هغه د پښتون خودغرضي ده، د جنګ په وخت کښې خو دے د قام دپاره ډېر تکليف تېر کړي مګر د امن په وخت بيا نۀ په قام کار لري، نۀ ئې د ملک په فائده څۀ کار وي. هر څۀ چې دي خو چې دۀ ته ذاتي فائده ورسي، د دۀ

دوه پېسې ګټه وشي، کۀ قام ته نقصان رسي نو ودې رسي. کۀ ملک تباه کېږي نو تباه دې شي او کۀ اسلام په سیند لاهو کېږي نو لاهو دې شي. په دې وجه زۀ نن تاسو ته صفا صفا خبرې کوم چې د دې تحریک اول مطلب دا دے چې مونږ د پښتون نه دا د خودغرضۍ ماده وباسو، دے دې ته تیار کړو چې خپله فائده د قام په فائده قربان کړي چې یو خوا د دۀ ذاتي فائده وي او بل خوا د قام د فائدې سوال وي نو دے د خپلې فائدې نه لاس واخلي او قام ته خېر ورسوي، هله به تاسو خدائي خدمتګار شئ او هله به زمونږ د دې تحریک نه ملک ته فائده ورسي.

مونږ جېل خانې ته ځو، کۀ څۀ مصیبتونه تېروو دا ټول د دې خبرې د پاره چې قام ته مو څۀ فائده ورسي نو نن تاسو په دې خبره فکر وکړئ کۀ تاسو دا خپل زاړۀ عادتونه نۀ شئ پرېښودئ او دا د خودغرضۍ ماده له ځان نه نۀ شئ ایستئ نو زۀ تاسو جنګ له نۀ بیایم. زۀ نور تکلیفونه تاسو ته نۀ درکوم، هغه جنګ به څۀ فائده وکړي چې زۀ تاسو خراب تراب کړم، تاسو تباه کړم، تکلیفونه، مصیبتونه درباندې راولم، په بال بچ مو لوږې تندې تېرې کړم او چې جنګ ختم شي څۀ ګټه په لاس راشي نو تاسو خپلې خودغرضۍ شروع کړئ، د هغې ګټې نه تاسو ته څۀ فائده ورسي او نۀ ستاسو بچو ته څۀ فائده ورسي دا ځل به زۀ هله جنګ کوم، هله به تاسو جنګ له بیایم چې زۀ پوهه شم چې تاسو رښتیني خدائي خدمتګار شوئ، تاسو هر څۀ چې کوئ د خدائے د پاره ئې کوئ، څۀ تکلیف چې تېروئ د خپل قام د فائدې د پاره ئې تېروئ، تاسو خو لږ دې خپل ګرېوان کښې وګورئ، دا تاسو څۀ کوئ. د ډسټرکټ بورډ په ممبرۍ ستاسو جګړه وي، د اسمبلۍ په ممبرۍ پسې تاسو مرئ او بیا چې یو سړي ته تاسو ووټونه ورکړئ، ډسټرکټ بورډ یا اسمبلۍ ته ئې ولېږئ نو هغه پسې شئ، ناجائزې فائدې ترې اخستل غواړئ، کۀ ستاسو په مرضۍ ځي خو ښه ده کۀ نۀ وي نو بیا هغۀ ته کنځل شروع کړئ، هغه په خلقو کښې سپکوئ، تر دې چې په ما هم ایله نۀ کوئ، وائي چې باچاخان څۀ وکړل، خو خپل ورور ئې وزیر کړو، د غریب څۀ وشو، دا ستاسو خبرې دي چې د غریب څۀ ونۀ شو نو د چا وشو کۀ زما ورور وزیر شو ےدے کۀ بل څوک ممبر شوے دے دا خو ما نۀ دي کړي، تاسو ووټونه ورکړي دي او تاسو اسمبلۍ ته لېږلي دي، ما خو دا ډېر ځله وئیلي دي کۀ دوي ستاسو خدمت نۀ کوي نو راجمع شئ زما ورور هم وباسئ او کوم ممبر چې د قوم خدمت نۀ کوي هغه په راوتلو مجبور کړئ نور خلق ولېږئ، وزیرۍ او ممبرۍ خو ټول اولس ته نۀ ملاوېږي خو څو کسان به جوړېدل او هغه جوړ شو.

زۀ خو چې فکر کووم نو صحیح خدائي خدمتګاري به ډېرو کمو خلقو کښې پاتې وي، ټولې خودغرضۍ او منافقت دے، تاسو ته به د سن **30** زمانه یاده وي چې دا خودغرضۍ نۀ وې نو څۀ په اخلاص به خلقو قومي خدمت کولو د یو بل سره د خدائي خدمتګارو څۀ ښه مینه وه، محبت ؤ او صداقت ؤ مګر دا اوس څۀ چل وشو چې نۀ هغه مینه شته او نۀ هغه محبت شته.

وروڼو! وجه دا ده چې هغه وخت د جنګ زمانه وه او اوس د امن وخت دے او لکه چې اوس ما تاسو ته ووې د امن وخت کښې تاسو خپله ګټه نۀ

شئ سمبالولے نو دا کوشش پکار دے چې زمونږ نه دا د خودغرضۍ ماده لرې شئ او د خدائي خدمتگارۍ صحیح جذبه په مونږ کښې پېدا شي. یو طرف ته خو د عامو خلقو دا حال دے او بل طرف ته زمونږ لېږلي خلق ځینې ممبران هم د خپلو ممبرو نه ناجائزې فائدې اخلي او داسې کارونه کوي چې په پخوانو ممبرانو او دوي کښې هېڅ فرق نشته. د ډسټرکټ بورډ پخوانو ممبرانو به هم په خپلو دوستانو په اتۀ انې او نهۀ انې لیلامولے او زمونږ ممبران ئې هم په اتۀ انې لیلاموي. پخوانو ممبرانو هم ډلې پرې او سفارشونه کول او زمونږ ځینې ممبران هم کوي.

اصل خبره دا ده چې مونږ نا اهله یو او داسې نااهله قوم ته خدائے پاک حکومت نۀ ورکوي نو یاد لرئ چې زۀ په داسې حال کښې په تاسو بل جنگ نۀ کووم. ولې چې زما کوم غرض دے هغه نۀ پوره کیږي نو د داسې جنگ نه څۀ فائده حاصلېدے شي.

هو! کۀ تاسو رښتوني خدائي خدمتگار شوئ او په ځان کښې مو اهلیت پېدا کړو نو پس د هغې به جېلخانې ته لاړ شو، تکلیفونه به په ځان تېر کړو چې قوم ته ترې فائده ورسي. په دې جنگ کښې مونږ ته د ډېرو خلقو ضرورت نشته. لږ کسان پکار دي خو چې رښتوني خدائي خدمتگار وي کۀ تاسو د کلي په سر یو خدائي خدمتگار ماله راکړئ نو هغه ټول کلے به زمونږ ملګرے وي او زۀ به ستاسو دپاره جنگ وکړم. تاسو پوهېږئ چې زمونږ سره د خلقو هغه پخوانۍ مینه نشته، ولې؟ دا ځکه چې مونږ رښتوني خدائي خدمتګارې پرېښې ده، هر سړے په دې سودا کښې ډوب دے چې زۀ جمعدار ولې نۀ شوم، زما ورور ته نوکري ور نۀ کړې شوه، زما زوئے پټواري نۀ شو، دا ځل زۀ داسې کسان ځان سره نۀ بیایم چې سبا زما نه لیډري غواړي، ممبري غواړي او نوکري غواړي. زما دپاره داسې فوځ هېچرې توره نۀ شي کولے چې هغه د خپل ذاتي غرض په جذبه کښې جېل ته ځي ما له به هغه سپاهي ګټه او تُوره کوي چې هغه رښتینے خدائي خدمتگار وي او څۀ کوي د خدائے دپاره ئې کوي.

تر څو چې لکه د غنم د دانې خاورو کښې ځانونه خاورې نۀ کړئ نو ستاسو قوم هېچرې زرغونېدے نۀ شي کۀ ځان مو خاورې کړو نو د قوم ونه به زرغونه شي، ملک به اباد شي او د ملک نه به دا ټوله لوږه، بربنډه او خوارې نیستي ورکه شي، دا ځل زما کلک یقین دے چې مونږ له به په دې جنګ کښې خدائے پاک کامله فتح راکوي. خو صرف شرط دا دے چې مونږ سره جېلخانې ته خدائي خدمتگار لاړ شي، لږ دې وي خو رښتونے خدائي خدمتګار دې وي. داسې خلق تلل نۀ دي پکار چې په جېلخانه کښې هم خاني غواړي، د ګېډې دپاره د نشو دپاره د ملازمانو، داروغه ګانو خوشامندې کوي، ځان وتلئ کۀ د جېل د قواعدو نه خلاف ورزي کوئ د جېل خوراک او مشقت ته او د جېل ټولو قواعدو منلو ته تیار یئ او د کورونو نه روپۍ نۀ غواړې کۀ دا منئ خو ښه ده ګنې هسې دے ځان په تکلیف کوي نۀ، کور دې کښېني چې څوک په خوښه جېل ته نۀ ځي نو خدائي خدمتگارو له پکار دي چې هغه پورې خندا نۀ کوي.

اخر کښې به دا عرض وکړم چې تاسو ټول دلته موجود یئ چې واپس لاړ شئ نو زما خبرې زما دا

پېغام حرف به حرف هغو ورونو ته ورسوئ څوک چې
دلتـه نـهٔ دي راغلـي. پـه غـم ښـادۍ کښـې، حجـره،
جومـات کښـې، چرتـه چې څـو کسـان يـو ځـائے وي
هغوي ټول په دې پوهه کړئ او څوک چې قومي فـوځ
کښې برتي کېدل غواړي نو اول دې پـه دې خبـرو ښـهٔ
غور وکړي او دې خبرو منلو ته دې تيار شي.